مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۰/۰۹/۰۹

# سوله، د سولې ډولونه او سوله په ادیانو کې

## (څلورمه برخه)

### سوله د مسلمانانو تر منځ (۲):

الله تعالی پخپله ﴿الْحَيُّ﴾ ژوندی دی، ټولو ژوندیو موجوداتو ته الله (ج) ژوند ورکړی دی په دې بنسټ د ژوند اخیستلو حق یوازې د الله تعالی دی ځکه خو لوی څښتن د انسانانو تر منځ مرګ ژوبله نه خوښوي. د اسلام سپیڅلی دین خپل لاره ویان د سولې پر لور بللي دي، سوله یې ښه او سمه لار بللې ده او جګړه بده بولي، بدي په نېکی سره دفع کوي او د سولې په نتیجه کې دوه دښمنان په دوستانو بدلوي، رب العالمین فرمایي:
﴿وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَىٰ دَارِ السَّلَامِ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾
ژباړه:«الله د سولې او سلامت کور ته بلنه درکوي، چا ته یې چې خوښه شي سمه لار ورښیي.»(یونس: ۲۵)

﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾ (نساء: ۱۲۸)
ژباړه:«نه شته هېڅ ګناه پر دغو دواړو چې سوله وکړي په خپلو منځو کې، یو شان سوله. او سوله لوی خیر دی.» (نساء: ۱۲۸)
سره له دې چې په اسلام کې پټې خبرې منع دي ځکه چې پټې خبرې بېلابېل شکونه او ستونزې رامنځ ته کوي خو د خلکو په منځ کې د روغې جوړې په موخه پټو خبرو ته لوی څښتن هم اجازه ورکړې ده، داسې لکه الله (ج) چې حرام (د خنزیر غوښه، وینه، او نور) د مسلمان د ژوندي پاتې کېدو لپاره حلال کړي دي. (د مایدې سورت: ۳ آیت) په لاندې آیت کې د دا ډول خبرو په هکله راغلي دي:

﴿لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا﴾
ژباړه:«د خلکو په ډېرو پټو خبرو کې خیر نه شته خو څوک چې د صدقې یا بل ښه کار، یا په خلکو کې د روغې جوړې هڅه او مرسته وکړی. او څوک چې د خدای د رضا په موخه داسې کار وکړي هغه ته به لوی اجر ورکړو.» (نساء: ۱۱۴)

### سوله په جنت کې:

په سوله کې ژوند کول داسې دی لکه په جنت کې چې اوسیږي، د کومو هېوادونو اوسېدونکي چې په ټل پاتې سوله کې ژوند کوي خپل هېوادونه یې د جنت په څېر ودان کړي دي، په جنت کې تل ترتله سوله وي، الله (ج) په قرآن عظیم کې ډېر ځایه د جنت او د جنت د اوسیدونکو په هکله یادونه کړې ده، فرمايي:
﴿ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ﴾
ژباړه:«په سلامتی او امنیت کې ننوځئ دغو باغونو ته» (حجر: ۴۶)
﴿إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا﴾
ژباړه:[په جنت کې] به یوازې سلام، سلام اوری.» (واقعه: ۲۶)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## سوله په کورنيو کې:

نه يوازې دا چې سولې ته په جګړو کې اړتيا ده بلکې د کورنۍ د غړو تر منځ هم د سولې او په سوله کې ژوند کول خورا اړين کار دی، که د ښځې او ميړه تر منځ سوله او صميميت نه وي کورنۍ له منځه ځي چې له امله يې يوه بې مسؤليته او بې احساسه ټولنه رامنځ ته کيږي په دې تړاؤ قرآن کريم داسې ښوونې کړي دي:

﴿وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا﴾

ژباړه:«که د ميړه او ميرمنې تر منځ د مخالفت څخه ويره وي نو يو منځګړی د سړي له خپلوانو او بل تن د ښځې له خپلوانو څخه وټاکئ، که دوی سوله (روغه جوړه) وغواړي الله به د دوی تر منځ د جوړې لاره برابره کړي، الله په هر څه پوه او خبر دی.» (نساء: ۳۵)

﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِن بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾

ژباړه:«کله چې ښځه د خپل ميړه له ناوړه چلند يا مخ اړونې څخه په ويره کې وي، نو څه باک نه شته چې ميړه او ميرمن په خپلو کې سوله (روغه جوړه) وکړي. سوله په هر حال ډيره ښه ده.» (نساء: ۱۲۸)

## د سولې ثمره (امن او سوکالي):

پوهيږو چې د سولې حاصل امنيت او سوکالي ده چې وروسته د سولې له پلي کيدو څخه په سيمه کې امن راځي، امن د الله تعالی لوی نعمت دی چې پر موږ انسانانو يې لورولی دی، هر ساه کښ امن ته اړتيا لري په امن کې د انسانانو هره اړتيا ترلاسه کيږي، تر هغې چې د الله تعالی عبادت په امن او آرامی کې په ښه توګه ترسره کېدلی شي، که امن نه وي د جګړې پر مهال لکه څه ډول چې لازمه ده د خدای عبادت هم نه شي ترسره کيدلی، که امن وي نو لمونځ په ډاډ سره ادا کولی شو د نساء سورت ۱۰۲- ۱۰۳ آيتونه او د بقرې سورت ۱۳۹ آيت په همدې موخه راغلي دي وايي:

﴿فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ۖ فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ﴾

ژباړه:«که امنيت خراب وي، که پلي ياست يا سپاره، هر ډول چې کولی شی لمونځ وکړئ. بيا کله چې امنيت ټينګ شي نو الله په هغه شان ياد کړئ چې ځنګه يې تاسو ته ښوونه کړي ده چې پخوا نه پرې پوهيدی.» (بقره: ۲۳۹)

﴿فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ۚ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾

ژباړه:«کله مو چې لمونځ پای ته ورساوه، الله يادوئ، په ولاړې، په ناستې په داسې حال کې چې په څنګ پراته وی او کله چې ډاډه شوی (د ويرې او ډار حالت له منځه ولاړ) لمونځ د معمول په شان ترسره کړئ.» (نساء: ۱۰۳)

لوی ښتن هغه ځای خوښوي چې په هغه کې امن وي، تر دې چې د مکې په ښار، چې يو د امن ښار دی، لوړه کړې ده او په دې اړه په قرآن حکيم کې څو ځايه په لړ توپير سره داسې يادونه شوې ده:

﴿وَهَٰذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ﴾

ژباړه:«او قسم دی په دې له امن څخه ډک ښار[= مکه]» (د تين سورت: ۳ آيت)

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا﴾

ژباړه:«هغه وخت[ياد کړه] چې ابراهيم(ع) دُعا کړې وه: پرورډګارا! دا [د مکې] ښار د امن ښار وګرځوه.» (ابراهيم: ۳۵)

﴿وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا﴾

ژباړه:«او دا چې موږ دا کور [کعبه] د خلکو لپاره مرکز او د امن ځای جوړ کړی ؤ.» (بقره: ۱۲۵)

﴿فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ إِبْرَاهِيمَ ۖ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا﴾

ژباړه:«په هغه کې ځرګندې نښانې دي، د ابراهيم(ع) د دريدو د عبادت ځای دی او هغه ته چې څوک ننوځي په امن شو.» (آل‌عمران: ۹۷)

﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا﴾

ژباړه:«آيا دوی نهويني چې موږ يو له امن څخه ډک حرم پيدا کړی دی.»(عنکبوت سورت: ۶۷ آيت)

نور بيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ